# د افغانستان د بشري حقونو د خپلواك كمېسيون
# مطبوعاتي اعلاميه

دكابل ښار د شهيد داوود خان په (د څلور سوه بستريز) روغتون باندې نننی ځانمرگی بريد چې درې تنه په کې مړه او ګڼ شمېر ټپيان شول د بشريت پر ضد جنايت او د نړيوالو بشر دوستانه قوانينو څخه ښكاره سرغړونه ده.
نن د شنبې په ورځ د ۱۳۹۰کال د ثور په ۳۱مه نيټه چې ۲۰۱۱کال د مې ۲۱نيټې سره برابره ده دكابل ښار د يو ځانمرگي بريد شاهد وو چې په ترڅ کې په څلور سوه بستريز روغتون کې درې تنه مړه او ګڼ شمېر نور ټپيان شول.
دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون له دې لارې د قربانيانو او ټپيانو كورنيو سره تسليت او همدردي څرګندوي او د لوی خدای نه ورته د صبر او زغم هيله كوي.
د ۲۰۱۱كال په لومړيو څلورو مياشتو کې په ټول هيواد کې دملكي وګړو د تلفاتو شمېر ۶۰۸تنه ته رسيږي چې درې په څلورمه برخه يې د دولت د مخالفو ځواكونو او پاتي نور يې بيا نامالومو، نړيوالو او دهغو د پلوي ځواكونو له لوري وژل شوي دي.
دافغانستان دبشري حقونو خپلواك كمېسيون په عامه تاسيساتو لكه روغتيايي مركزونو، ښوونځيو او نورو ملكي ځايونو چې په نړيوالو قوانينو کې منع شوي دي بريدونه چې په عين وخت کې د اسلام له مبين دين او نړيوالو قوانينو خلاف كړنې دي په كلكه غندنه كوي.
دافغانستان د بشري حقونو د خپلواك كمېسيون كميشنر نادري نادر وويل (( پر روغتيايي بنسټونو او دهغو پر كاركوونكو باندې پوځي بريدونه په قطعي توګه منع دي او د نړيوالو بشر دوستانه قوانينو څخه سرغړونه او د توجيه وړ عمل نه دی)) نوموړي زياته كړه چې په تيرو څو مياشتو کې د طالبانو او دهغو دملګرو پرله پسې بريدونه ددې ښودنه كوي چې دوی په سازمان شوي بڼه او قصدي توګه په ملكي كسانو دا بريدونه ترسره كوي
چې له دې سره ټولو ته په ښكاره توګه جنګي جنايتونه او د بشريت پر ضد جنايات تداعي كېږي.
دا چې په كابل ښار کې دا ځانمرگی بريد په يو امن، خوندي او ملكي ځای کې شوی دی، نو دا كار د نړيوالو بشردوستانه قوانينو ( دژنيو تړون) څخه په ښكاره سرغړونه ده.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون په دې باره کې خپله ژوره انديښنه ښکاره کوي او دافغانستان له دولت نه غواړي چې ددې پېښې د عاملانو په محاکمه کولو کې کوټلي ګامونه واخلي.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون